Mr. Diijon DaCosta Sr., د بورډ رييس
آغلې Deirdre P. Pierce مرستياله
Anna Hill مېرمن
Whitney McGinniss مېرمن
Allyson Gevertz آغلې
Vickie B. Turner مېرمن
Dr. Joyce Morley

DeKalb County School District™
Dr. Devon Q. Horton، رييس

سپتمبر 8، 2023

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ قدرمنې ټولنې،

زه په دې اونۍ کې د دويم ځل لپاره په خورا زياته خواشينۍ سره تاسو ته يو داسې ليک استوم کوم چې زموږ د ښوونځي په ټولنه کې د يو بل ويجاړونکي زيان په اړه زړه ځورونکي خبرونه لري. له دې مخکې، موږ د موټر د يوې غمجنې حادثې له امله د Lakeside عالي ښوونځي د دريو زده کونکو په ناڅاپي مړينې خپګان څرګند کړ. اوس موږ د يوې داسې پېښې له امله د Rock Chapel ابتدايي ښوونځي د يو کم عمره زده کوونکي له لاسه ورکولو سره مخ يو چې ياده پېښه د يوې ناامنه وسلې سره تړاو لري.

دا زيانونه زموږ د ګډ انسانيت په مرکزي برخه برید کوي او له همدې امله د يو ژور غم احساس رامنځته کيدل طبيعي خبره ده. د يوې ولسوالۍ په توګه، موږ ټل د هغو کسانو کورنيو او ملګرو ته د زړه له تله خواخوږي او خالص ملاتړ وړاندې کوو کوم چې ډېر ژر له موږ څخه اخيستل شوي دي. د يو پلار په توګه، زه دوی په خپلو فکرونو او دعاګانو کې ياد ساتم په دې هيله چې ښايي د دې نه منلو وړ تراژيديو پرمهال به زموږ په زخمونو د پټۍ لګولو يو څه فرصت هم رامنځته شي.

يو کوريايي متل له دغو پېښو څخه په لاندې ډول تعبير کوي: *"کله چې يو ماشوم مړ کيږي نو تاسو هغه ماشوم د تل لپاره په خپل زړه کې ښخوئ."* د دې اونۍ په جريان چې کوم زده کونکي له لاسه ورکړل شوي هغوی به تل د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ د بډايه تاريخ يوه برخه وي. د خپل يووالي او خوندور عکس العمل له لارې، موږ به له لاسه ورکړل شويو دې قيمتي روحونو ياد ته درناوي لپاره لارې چارې ولټوو ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړو چې د دوی ميراث د هغه ځواک په څير ژوندی دی چې موږ يې له يو بل څخه ترلاسه کوو.

د Rock Chapel ابتدايي او د Lakeside عالي ښوونځيو زده کونکو او کارمندانو ته، مهرباني وکړئ پوه شئ چې موږ دلته ستاسو دوامداره مرستې لپاره شتون لرو. غم د ستونزو ډک يو شخصي سفر دی او موږ ژمن يو چې ستاسو په زخمونو د پټۍ لګولو لپاره اړين ملاتړ چمتو کړو. د دې اونۍ په جريان کې، د غم متخصصين په نه ستړي کيدونکي توګه او زړورتيا سره د مشورې او ملاتړ خدماتو له لارې داسې مرسته چمتو کړې ده چې د اړتيا تر وخته به دوام وکړي.

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ د 92,000 زده کوونکو، 14,000 کارمندانو، د کورنۍ بې شميره غړو او شريکانو له يو بل سره تړلې ټولنه ده. د تراژيديو د رامنځته کيدو له امله موږ ټول غمجن کيږو ځکه چې موږ يوه داسې ټولنه يو چې د ريښتيني خواخوږۍ او نيکمرغۍ لپاره په نخښه شوې ده. په ګډه، موږ د خپلې ريښتينې خواخوږۍ، ثابت او قوي ملاتړ او د مهربانۍ لارښوونې په وړاندې کولو سره له لاسه ورکړل شويو زړه ته رانږدې ملګرو ته درناوی وړاندې کوو.

زه تاسو هڅوم چې خپلو مينه والو ته دا فرصت ورکړئ چې په دې پوهه شي چې تاسو د هغوی په اړه زياتره وختونه څنګه احساس کوئ. زه پوهيږم چې زه به دا کار ترسره کړم.

په ژوره خواخوږۍ او ثابت او قوي ملاتړ سره،

Dr. Devon Q. Horton, *رييس*
د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ